محمدابراهیم سپېڅلی
۲۰۲۶/۰۹/۰۸

# راز د ټولني په راز خبر شاعر

**څوک د چا له غمه نه مري درواغ وايي**
**ما ته ګورئ، ستاسي وړاندي يو ثبوت يم**

دا پوخ، ژور او منلی بيت د خدای بخښلي پروفيسور استاد رازمحمد راز يو له هغو بيتونو څخه دی، چي له ډېرو ادبپالو مي اورېدلی او د يادابښت په ډېرو کتابچو کي مي لوستلی دی.

تر لسو کالو زيات وخت کېږي، چي ما دا بيت په لومړي ځل د مرحوم استاد راز نوي چاپ سوی شعري ټولګه ( د صليب په دايرو کي مات وزري زانې ژاړي) کي ولوست.

باور وکړئ، چي ياد بيت مي په يو ځل لوست نه يوازي په ذهن کي ثبت سو، بلکي ډېر اغېز يې هم راباندي وکړ. تاسي يې خپله ولولئ، په دې يو بيت کي څومره لويه فلسفه نغښتي ده.

په دې دوو لنډو نيم بيتونو کي څومره ژور فکر پروت دی.

په دې يو بيت کي يو داسي حقيقت د شعر په خوږه ژبه بيان سوی دی، چي هيڅوک يې پر ريښتنوالي سترګي نه سي پټولای.

د ټولني يولوی درد ته يې په داسي ډول ګوته نيولي، چي د خورا ډېرو لږو کسانو ورته پام دی، خو د ټولني هر څوک ورسره لاس او ګرېوان دی.

همدا د ليکوال، شاعر او ژورناليسټ ځانګړتيا ده، چي د ټولني ډېرو بارکيو ته پام کوي او بيرته يې د همدې ټولني خلګو ته په داسي انداز وړاندي کوي، چي لوستونکي يې ګوته په غاښ پاته سي.
همدا ځانګړتيا د خدای بخښلي د شعر او ليکوالی تومنه ده.

پروفيسور راز محمد راز يوازي شاعر نه و، هغه پر نثر هم غښتلی و.
په نثر کي د ناول فورم يې د لوستونکو پر زړه منګولي لګولي دي.

د دې ترڅنګ يې پر بېلا بېلو سياسي، ټولنيزو، فلسفي او ادبي اړخونو هم قلم چلولی او له دې لاري يې د پښتون ولس د راويښولو خاموش ږغ پورته کړی دی.

نه يوازي د سيمي بلکي د نړۍ په تاريخ هم تر ډېره خبر او د خپل طبعي ميني له امله يې د مرګ تر ساعته د مطالعي لمن خوشي نه کړه.

راز د افغان ملت په راز خبر قلموال و، د ده په شاعرۍ کي ټول اړخونه، خو د د غه ولس کړېدلی، خوار او تر ناځوانيو لاندي ژوند يې د فلسفي په لنډ او ژور رنګ داسي انځور کړی دی، چي دا ډول انځور کښنل د ډېرو قلموالو له توان وتلی کار دی.

که بيرته خپلو لومړنيو خبرو ته وګرځو او يوازي په هغه ليکل سوي بيت کي د فکر نيلي وځغلو،نو له ورايه به راته معلومه سي، چي راز په رښتيا يو رياليسټ شاعر و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**"ځوک د چا له غمه نه مري درواغ وايي.**
**ماته ګورئ، ستاسي وړاندي یو ثبوت یم."**

د ده بیت دا راپه ګوته کوي، چي په ربښتیا هم دا لباسي او خطا ایستونکي نړۍ ده، په دې خاورینه کره کي اوسیدونکي انسانان تر ډېره هغه ځای ته رسیدلي دي، چي د خپلو شخصي ګټو لپاره درواغ ووايي، نورو ته غم ورکړي، د مرګ سوداګرۍ ته یي لاس اچولی او د چا په کیسه کي لا هم نه دي.

اوس تر ډېره انسانان بدل سوي ، هیڅوک د چا په غم کي نه دی او هیڅوک د چا له غمه نه مري، هسي لباسي ژړا او لباسي خنداوي سره کوي.

ځوک په خندا کي او ځوک بیا په ژړا کي یو او بل ته دامونه ږدي، د نورو له ککریو منار جوړوي او د یو ګړي لپاره یي د خپل ساعتیري لپاره سر ته خیژي.

که دمرحوم استاد راز ټوله شاعري او لیکوالي پټه کړل سي، لیکن یوازي یي دا یو بیت د خلګو سره موجود وي ، نود استاد راز نوم به ژوندی وی، لوستونکي، اورېدونکي او مینه وال به لري.

زموږ د ټولني په درد دغه خوږمن شاعر، لیکوال اوفلسفي انسان له نن څخه دوه شپېته کاله وړاندي د سویلي پښتونخوا د پښین ولسوالی د مرحوم ملک محمد دین ترین په کور کي دې نړۍ ته سترګي وغړولي.
تر لومړنیو، منځنیو او لیسانس دورې زده کړو وروسته یي د تاریخ په څانګه کي له کراچي پوهنتون څخه د ماسترۍ سند تر لاسه کړ.

له لوړو زده کړو وروسته یي د سویلي پښتونخوا په بېلا بېلو لوړو تعلیمي موسیساتو کي د تاریخ استادي وکړه.

تر اوسه یي (د صلیب په دایرو کي، مات وزرې زاني ژاړي) په نوم د شعرونو ټولګه، د (اوشنیک ګاډیس) په نوم د نثري نظمونو کتاب، د (عاشو، لمر او باران اوري) او (کابل ړنګ دی میني ژاړي) په نومونو دوه پښتو ناولونه او د (کاسمیک سیکسولیزم) په نوم یي د روحاني فلسفي په اړه د مقالو کتاب او (دی هولی سینرز The Holy Sinners) اردو ناول یي چاپ او څو کتابونه یي لا د چاپ لار څاري.

موږ د ده مرګ د پښتو ژبي او پښتون ولس لپاره لویه ضایعه ګڼو.
خدای دي یي ګور له نوره او کور له صبره ډک کړي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولــئ